محمد عارف رسولي ۲۰۱۷/۰۴/۱۷

# د ډیورنډ کرښه ولې رامنځته شوه، څه درس راکوي؟

## (لومړۍ برخه)

بیوزله ملتونه نه شي کولای چې ستراتیژیک لوری ځانته وټاکی، خپل کمښتونه او تشې وپیژني، له ستونزو او د پردو له دسیسو ځان وژغوري او څکه تر ډېره بیوزله پاته کیږي.
په دې لیکنه کې په لمړۍ برخه کې په افغانستان کې د نړیوالو قدرتونو په تاریخي سیالیو او د هغو په لاملونو او هم زموږ په کمښتونو بحث وشي. په وروستی او دوهمه برخه کې به د پورته سیالیو او جوړجاړیو په راټوکیدلو ناخوالو، د ډیورنډ په کرغیړنه توره کرښه، او له دې لاسوهنو څخه د درسونو په زده کړه تمرکز وشي. هیله ده د دوستانو د پاملرنې وړ وګرزي.

### ستر نړیوال او سیمه ییز قوتونه او د نړۍ کنټرول:

ستر نړیوال قوتونه چې زیات امکانات او کارپوهان په اختیار کې لري، نو قوي حافظه هم لري. هغوي د خپلوګټو د خوندیتوب لپاره د نړۍ په هره سیمه کې ټول قوتونه تر نظر لاندې ساتي. که کوم ملک هغوی ته زیان رسولی وي، ماته یې ورکړي، یا داسې پوتنسیال او باالقوه امکان ولري چې یا اوس او یا په راتلونکي کې د دوي ستراتیژیکو ګټو ته تهدید رامنځته کړي، دوی یې مخه ډب کوي، کمزوري کوي یې، سره ویشي یې، له ګاونډیو ملکونو سره یې لاس یو کوي او نوي ظهور ته یې نه پرېږدي.
سیمه ییز قدرتونه هم په اوس وخت کې د خپل نفوذ د خوړولو لپاره په ګاونډیو ملکونو کې په نیابتي جګړو لګیا دي او دا کار د ځینو نړیوالو قدرتونو سره په همغږۍ کې کوي. دوی په نړیواله کچه د لویو قدرتونو ګټې ساتي خو څه کوي چې په سیمه ییزو مسئلو او په ګاونډیو هیوادونو کې د لاسوهنې او یو څه نفوذ حق ورکړل شي. په افغانستان کې موږ په تاریخي لحاظ او اوس هم له ورته ستونزو سره مخ وو او اوس هم ورڅخه کړیږو.
موږ ته اړتیا ده چې په پورته مسئلو باندې سم پوه شو ترڅو د یو ملت په توګه له خپلو روا ګټو ننګه وکړو، خپلواک پاته شو، له تیرو تاریخي پېښو د اوس او راتلونکي لپاره ګټه پورته او درس واخلو، نه دا چې لاس تر زنې کینو او هر څه چې راپیښیږي ورته تسلیم و اوسو. نو باید افغان دولت او ملت په ریښتیني مانا د ژوندي پاته کیدو هنر، اړیني وسیلې، کړنلارې او تګلارې زده کړي. باید پوه شو یوازې په وسله تکیه کول مو په آخري تحلیل کې خوار او د نورو لاس کټوی کوي. باید د ملت او نظام جوړوني په لارو چارو ځان پوه او په کلکه ورته ژمن و اوسو.

### د نړیوالو د ستراتیژیک تمرکز لمړی لامل:

له غزنویانو، لودیانو، سوري کورنۍ، د میرویس نیکه او د هغه ځای ناستو نورو هوتکیانو، د احمد شاه بابا او نورو واکمنیو چې یو وخت په نړۍ او سیمه کې ستر او مطرح طاقتونه ول. که څه هم په کراره کراره د خپلمنځي شخړو او ځان غوښتنو له کبله زموږ هیواد کمزورۍ شو، زیاتې برخې یې نورو ورڅخه جلا کړې خو لکه چې وایي په کومه ویاله کې چې یو ځلې اوبه تیرې شي بیا یې هم امکان شته. نو څکه د نړیوالو راته له همدې او نورو لاملونو له کبله پام وو او اوس هم دی.
له بله پلوه خو کله هم چې انګریزانو یا روسي یرغلګرو په افغان ولس د مستقیم وسلوال عسکري یرغل پریکړه کړې ستر ستر زیانونه یې د افغاني غازیانو له لاسه لیدلي دي. د مثال په توګه کله چې وزیر محمد اکبر خان او ملګرو یې په کابل کې د انګریزانو مشر مکناټن وواژه، او قوتونه یې اړ شول چې له کابله د جلال آباد په خوا پښې سپکې کړي، له شاوخوا شپاړس زرو عسکرو څخه یوازې یو تن ډاکټر براېډن جلال آباد ته ژوندی ورسیده او نور یې و وژل شول. بیا کله چې افغانانو د امیر امان الله خان غازي په مشرۍ ورڅخه د لمړي ځل لپاره په سیمه کې خپلواکي واخیسته، او افغانستان د سیمې او نړۍ د نورو ازادي غوښتونکو د پام وړ یو مرکز شو، هغوی دا پرمختګونه و نه زغمل، ویې غوښتل چې له افغانانو غچ واخلي، زموږ د خاورې د ویش لپاره یې اوږده پلانونه جوړ او یو په بل پسې پلي کړل. همدارنګه د افغانستان د پرمختګ مخه یې د خپلو لاسپوڅو په لاس ډب کړه او زموږ ملي نظام یې و نړاوه.

په راوروسته لسیزو کې روسانو د سرو لښکرو طلسم چې غربي نړۍ ویرولې وه په افغانستان کې مات او غرور یې له منځه لاړ او سره امپراتوري هم ړنګه شوه. که څه زموږ د ملت د وینو له برکته نورې نړۍ ګټه وکړه خو د پخوا په څیر افغانانو له کوم عقلاني چلند څخه کار وانه خیسته، سم نظام مو جوړ نه کړ، د نورو خپلمنځي خپلسریو تر څنګ د کا جي بي په لاس روزل شوو خاینو کړیو او جنرالانو پرېنښودل چې افغانان د خپلو سرښندنو ثمره وڅکي، قومي توپیرونو ته یې لمن ووهله تر څو ځان پکې پټ او له محاکمې خلاص کړي او ملت په لا نورو لانجو او ستونزو کې ډوب شو. د شورویانو د مزدورانو، قومي ټيکه دارانو او د ګاونډیانو د لاس وهنو له کبله د هیواد ملي بنسټونه او ملي نهادونه و نړیدل او تر ننه یې نه شو جوړولای.
نو له همدې کبله په سیمه کې قوتونو موږ ته تل د شک او ډار په سترګه کتلي دي. نه یې پرېښودل چې بیا افغانان د نړۍ په دې ستراتیژیکه سیمه کې په یوه قدرت بدل شي. لکه کله چې شاه زمان غوښتل د خپل نیکه احمد شاه بابا لویه امپراتوري راژوندی کړي، د هندوستان په لور له خپل لشکر سره وخوځیده خو انګریزانو ایران ولمساوه او په افغانستان یې حمله وکړه، ځینې ځایونه یې ونیول او شاه زمان هم په هند کې ومړ.

## د نړیوالو د ستراتیژیک تمرکز دوهم لامل:

له بلې خوا افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت له مخې د دوو تیرو پیړیو په اوږدو کې تر ننه پورې د نړۍ د سترو قدرتونو د ګټو چې اقتصادی او جیوستراتیژیکه بڼه یې لرله، د سیالیو مرکز پاته شوی دی. کله چې روسانو منځنۍ آسیا او انګریزانو د هند لویه وچه د سترو اقتصادي او سیاسي ارزښتونو او اهمیت له کبله لاندې کړل، غوښتل یې دا مستعمرې وساتي او لا نور ځایونه هم لاندې کړي. ځینو تاریخ پوهانو ویلي دي چې د هند له زبیښاکه پرته انګریزي امپراتوري ژوندی نه شوای پاته کیدای. همدارنګه، روسانو هم غوښتل چې هم منځنۍ آسیا په خپله امپراتورۍ کې ورداخله کړي، زیرمې یې ولوټي او له دې لارې د سویل په لور د هند وچې او هند بحر ته ځان ورسوي. نو ځکه دواړو استعماري قوتونو هڅه کوله چې خپلې دا مستعمرې له یو بل او نورو قدرتونو لکه فرانسوي ناپیلیون څخه چې هندوستان ته یې سترګې سرې کړې وې، خوندي وساتي.

## سترې لوبې او د افغانستان کرخت ساتل:

د پورته لمړیو دوو لاملونو له کبله روسانو او انګریزانو زموږ د هیواد د کنترول لپاره پخوا له یو بل سره سیالي کوله، نیغ په نیغه یې په افغانستان عسکري یرغلونه کول چې ورته ګران هم تمامیدله او هر یوه قدرت غوښتل په اړوندو افغاني شخصیتونو پانګونه وکړي. د پوهانو په باور دا لاسوهنه، تطمیع، کله مرسته او کله تهدید زموږ د ملت او مشرانو نړۍ لید غلطې خوات روان کړ. په افغانانو کې دا کلتور او تفکر رامنځته شو چې که قدرت نیسي نو له یوه طاقت سره لاس ورکړه. زما په اند زموږ د وروسته والي، په نورو د وابستګۍ د کلتور په نور راز راز لاملونه هم وي خو دا بهرنۍ زیرکانه لاس وهنې موږ ته زیاتې ورانوونکې تمامې شوې.
هغوی وروسته د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره له یو بل سره جوړ جاړی وکړ. دې هوکړې ته ورسیدل چې افغانستان د یوه حایل په توګه همداسې په شخړو او خپل منځي جګړو کې وساتي، نه دوی لاس ورکړي او نه بل څوک پرېږدي چې له افغانانو سره مرسته وکړي. دوی همداسې وکړل، او دې لوبو په تاریخ کې د سترو لوبو په نامه شهرت وموند. سترو لوبو او پورته پالیسیو زموږ هیواد د زیات اوږده وخت لپاره د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي نظره کرخت کړ، او ان تر اوسه له ټولنیز او سیاسي خوځښت او پرمختګ څخه بیرته پاته دی. باید پوه شو چې تر اوسه هم په افغانانو کې دا خبره سمه نه ده کره شوې چې د په ځان بسیا کیدو لاره په پردو تکیه نه بلکه په خپل ملت پانګونه ده.
په خواشینۍ سره زموږ ډیری مشران هغه وخت پوه شوي چې د قدرت له نیشې راکښته شي، د نړۍ د یوه او یا بل قدرت له پامه و غورځیږي، دوی نور د هغوی د ګټو لپاره څه نه شي کولای، پوه شي چې کاشکي موږ له پخوا په خپل ملت او ملي بنسټونو تمرکز او ستراتیژیکه پانګونه کړې وای. تاریخ له داسې افغان مشرانو ډک دی چې د زیاتو امکاناتو له لرلو سره سره نه دي توانیدلي چې د ملي بنسټونو (نهادونو)، د ملک په ظرفیتونو او وړتیاوو پانګونه وکړي. دا کمښت ټولنیز او کلتوري اړخونه لري او ټول افغانان که په هره مفکوره دي ورسره مخامخ دي. کیدای شي ځینې به دې کمښت ته تر اوسه او یا د خپل ژوند تر پایه نه وي ځیر شوي خو زه فکر کوم دا یو حقیقت دی.
ما په یوه لیکنه کې ولوستل چې ډاکتر نجیب هغه وخت چې روسانو د ملل متحد په مهمانخانه کې خپل سرنوشت ته پرېښود او له غرب سره د خپلو ملي ګټو په هکله جوړجاړي ته ورسیدل، نو هغه هم پوه شوی و چې موږ افغانان تر څو د نورو په ځای په خپل ځان او خپلو خلکو حساب ونه کړو، نن دې او سبا هغه قدرت ته تمه ولرو، په سترو لوبو پوه نه شو او د ځان د خلاصون په فکر کې نه شو همدا به مو حال وي. وايي هغه د ملل متحد په میلمستون کې د سترو لوبو په هکله یو کتاب هم په پښتو وژباړه، چاته یې ورکړ چې بهر ته یې ولیګي چې چاپ یې کړي خو درک یې بیا ورک شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په خواښینی سره په افغانستان کي د هوتکیانو او احمد شاه بابا او د هغه د زوی تیمور شاه تر واکمنیو وروسته ملي زعامت کمزوری او له زیاتو واکمنو تدبیر کوچ وکړ، د سیمې او خپل هیواد په جیوپولیتیک او جیو ستراتیژیک موقعیت او شرایطو پوه نه شول، که پوه وو اغیزمن تدبیرونه یې و نشوای نیولای. انګریزانو او روسانو د خپلو موخو لپاره په افغانستان کي وطن ته خاین او ځان غوښتونکي عناصر لکه شاه شجاع او نور یا قدرت ته ورسول، یا یې د ملي شخصیتونو لکه وزیر محمد اکبر خان او نورو د کمزوري کولو لپاره وکارول او افغانستان یې ورباندي له ثباته محروم او وروسته پاته وساته.
امیر شیرعلي خان او په تیره ملي اتل غازي محمد اکبر خان که څه هم زیاتي قهرماني وکړې، خو د انګریز او روس تر منځ په دسیسو کي د سترو لوبو په جریان کي بند پاته وو او و نه توانیدل چي په ملک کي قوي او تل پاتي نظام، قوی سیاسي او اقتصادی بنسټونه جوړ کړي. په دې ترتیب افغانستان د دوو قوي زبر ځواکو قوتونو په منځ کي تر فشار لاندي په بیوزلۍ، نالوستي توب، جهالت، له پرمختګ څخه لرې هیواد پاته شو. په پای کي زموږ هیواد و نه توانیده چي د خپلي ځمکنی بشپړتیا خوندیتوب، تولنیز، اقتصادي او سیاسي پرمختګ یقیني کړي. همغه و چي لوی افغانستان یو په بل پسي زیاتي ځمکي له لاسه ورکړې.

## د نړیوال ستراتیژیک تمرکز معاصر لاملونه:

په پورته یادو جیو ستراتیژیکو او نظامي سیالیو تر څنګ وروسته بیا نوري نوې ستراتیژیکي مسئلي هم رامنځته شوې چي له پخوانیو سره یې یو څه ورتوالی او ځیني توپیرونه لري او زموږ د هیواد موقعیت یې نور هم مهم کړ. د پخوا په نسبت اوس چي نړیوال قدرتونه اقتصادی ګټو، تجارتي راکړې ورکړې، د انرژۍ د خوندیتوب، د مالوماتي تکنالوژۍ راکړې ورکړې، ترانزیت او مواصلاتو او نورو ته لا زیات اهمیت ورکوی. که ښه مدیریت او رهبري شي افغانستان د مرکزي او سویلي آسیا، چین، منځني ختیځ او ان اروپا تر منځ د یوه نښلوونکي پله او مرکز حیثیت لرلای شي، نو ځکه زموږ په ملک کي به مشروع نفوذ چي دوستانه اړیکي دي او یا په نیابتي جګړو کي د لاسپوڅو کارونه او خپلي ستراتیژیکي موخي تعقیبول دی د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو د لا نور پام وړ ګرزیدلي دي او غواړي دلته راز راز پانګونه وکړي.
همدارنګه، دوه نور مهم لاملونه هم نن سبا مهم شوي دي. یو له هغو زموږ د ملک تر ځمکي لاندي غني زیرمي دي چي ستر قدرتونه ورته لاسرسی د ځان لپاره مهم بولي. له بلي خوا، زموږ ستراتیژیک موقعیت داسي دی چي د نړۍ رابرسیره کیدونکو او شته سترو اقتصادي او نظامي قدرتونو لکه چین، هند او روسیې سره په ګاونډ کي واقع یو او دې مسئلې هم زموږ د هیواد ستراتیژیک اهمیت په اوس وخت کي لا نور هم زیات کړی دی.

**په دې هیله چي افغانان په خپلو امکاناتو، استعدادونو، ملي بنسټونو تکیه او پانګونه وکړي تر څو ریښتیني خپلواکۍ ته ورسیږي.**

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ